# د پښتو نوي علمي اصطلاحات به څنګه وي؟

زموږ ژبه اوس په نوي ژوندانه کې پل ږدي، او پښتانه دې خواته توجه کوي چې خپله ژبه پر نوي اساس او علمي ډول وروزي، او د دې وړ يې کې چې د وطن آيند علمي او رسمي چاري ټوله په دغه ژبه هم وي. دا خبره خو ډېره د خوښۍ وړ ده، او هغه څوک چې په دې لاره کې زيار کاږي، داسې څوک هم د حقيقت ليدونکو وګړو په سترګو کې ډېر درانه دي او د دوی په زړو کې د ميني ځای لري.

دا ډېر وخت وسو چې زه له شاوخوا څخه د پښتو د بشپړ کولو رغونه اروم، که څه هم دا ژبه ځانته ارت استعداد لري، او د هر راز روزني وړ ده، مګر چې تر اوسه چا نه وه پاللې نو دا خو د ژبې نقص نه سي ګاڼه.

د پښتو بشپړ کول مو و ويل، دا خبره ډېره د څېړني وړ ده، خورا ځير کاته غواړي، او د ژبې تکميل او ژوندون ډېر اهميت لري ډېر پښتانه ما ليدلي دي چې په دې کار د علم له خوا نه ورګډېږي. او هر څوک خپل عندی افکار پر ښکاره کوي، او له ځانه په ژبه کې نوي مواد او کلمات راباسي، زه پخپله د دې کار ډېر مخالف يم، ځکه چې بېله علمي لاري داسي اقدامات د ژبې لپاره مضر ګڼم هوکې! هر کار خپله لار لري که پر خپله لار ورسو، نو به عيب نه وي، زه به لاندې پر دې موضوع مفصل بحث وکم، که



تېروتم هيله لرم، چې پوهان به مې وبخښي، او غلطي به مې را سمه کې.

**د ژبې بشپړول :**

ژبې خو لومړی پلا په دغه شکل لکه اوس چې سته، منځته نه دي راغلي، بلکې په ډېرو پېړيو کې بشپړې سويدي، په هره پېړۍ کې د هغې زمانې خلکو پر خپلو معلوماتو او حياتي اړتياوو او خپل عقلي او اجتماعي جوړښت سم په ژبه کې مواد او کلمات زيات کړيدي. دا تکاملي سير په ژبو کې اوس هم جاري دئ، هر ملت خپله ژبه سموي مواد ئې لړوي، ډېروي يې، او پر هغه سبک يې را اړوي لکه د دوی د ژوندون احتياج چې وي، يو اجتماعي پلټونکی او محقق په دې موضوع کې داسې وايي :

"هر ملت تل خپله ژبه اړوي ځکه چې ژبه د ملتو د معنوي لوړتياوو سره سمه پر مخ ځي، نو هر څوني چې د يوه ملت افکار او خيالات لوړ سي، ژبه يې هم لوړېږي." (۱) دا خو د ژبو د طبيعي لوړتيا سير دئ، چې پخپله د ملتو د ارتقايي يون تابع دئ، مګر ژوندي ملل تل زيار کاږي، چې پخپل جهد هم خپله ژبه لوړه او بشپړه کې. د ژبو د بشپړتوب لپاره خو ډيري لاري او اصول سته، مګر هغه مواد چې زما په بحث اړه لري دا دي :

۱ د پښتو لغات او کلمات ټولول، او مواد يې راغونډول او قاموسونه يې ليکل.

۲. هغه کلمات مخصوصاً پلټل او ميندل، چې په ژبه کې اوس پښتو سوچه لغات نلري او د پرديو ژبو کلمات مستعمل دي.

۳. تر پلټني او استقراء وروسته که د کومې کلمې لپاره په ژبې کې لغت مينده نسو، او له هري خوا تر پلټني وروسته ياس حاصل سو، نو د پرديو مروجو کلماتو په عوض کې نوي پښتو کلمات وضع کول يا رواجول.

۴. د نوو شيانو او اختراعاتو لپاره اوس نوي نومونه د پښتو پر اصولو وضع کول، يعنې پر نوو شيانو نومونه ايښوول.

دا څلور مهم مواد دي چې نن يې موږ د پښتو د ژوندانه په سلسله کې مخ ته لرو که موږ خپله ژبه ژوندۍ کوو نو دې ته اړ يو چې هرو مرو به په دغه خبرو پسې ګرځو او زيار به کاږو چې دغه څلور ځلې مو د ژبې د لغاتو او کلماتو د غونډولو او ټولولو سته وي، او خپله ژبه به ارته او علمي او سوچه کوو.

نن هغه وخت تېر دئ چې علم او پوهنه به په ځنو مخصوصو خلکو پورې مخصوصه وه، نن موږ غواړو چې د ملت ټوله وګړي مو پوه او د علم خاوندان او پياوړي سي، نو چې علم موږ د ملت يو مشترک مال بولو، د دې لپاره خو تر ټولو دمخه دا لازمه ده، چې خپله ژبه بشپړه کو، ولې چې علم خو پخپله ژبه ښه او ژر زده کيږي، که زموږ ژبه دغسې پاته او ارته يا سوچه نسي، نو به په وطن کې د علم خپرونه هم ممکنه نه وي.

د نړۍ وينبو ټولنو او اولسونو د خپلې لوړتيا په لار کې د ژبې لوړول او له پرديو اغېزو څخه سوچه کول هم کړي او دا يې د خپل علمي او ادبي هسکتوب لپاره خورا مهمه خبره ګڼلې ده. په اروپا کې جرمنيانو له اولسمې پېړۍ څخه په دې کار پيل وکړ، دوی له خپلې ژبې څخه ځيني ناوره مواد وايستل، ټولنې او علمي انجمنونه يې ورته جوړ کړه دوی د خپلې ژبې په قوت او سوچه والي ډېر وياړي او علمي اصطلاحات يې داسې جوړ کړي دي چې هر څوک ښه په پوهيږي. يونانيانو په آخر کې له خپلې ژبې څخه توركي الفاظ وايستل، او تورکو د خپلو مشرانو په ښوونه خپله ژبه له دې پلوه ښه وروزله، پردي کلمات يې وغورځول خپل مال بې سره راټول کئ. ايران اوس په دې کار بوخت دئ، هره ورځ موږ وينو چې دوی د پرديو کلماتو په عوض کې پارسي لغات نشر کوي او



بابوي يې. جرايد او علمي ټولني او کتابونه او معارف ټوله دغه خپل کلمات چې مرکزي علمي ټولنې يې غوره کوي تر استعمال لاندي يې نيسي. عربي ژبه خو ډېر ارته او روزلې سوې ژبه ده، اوس يې هم علمي ذخيره او ادبي پانګه خورا غوره ده، مګر سره د دې هم عربان د خپلې ژبې له پالنې څخه فارغ نه دي د مصر او دمشق "المجمع اللغوی" هم پردۍ کلمې له عربي څخه باسي،او د اصطلاحاتو فرهنګونه ليکي. نو پر پښتو هم دا لازمه ده چې د خپلې ژبې پټې خزانې او قيمتي پانګې راټولي کي، او خپله ژبه مستغني او د پردو له اغيز څخه خوندي کي.

لاندي به زه پر لوړو څلورو خبرو باندې خبرنه وکم او د پښتو ځني عصري اړتياوي به څرګندې کم، ګوندي زموږ هغه مراکز چې د پښتو د ژوندانه مسئول دي توجه و فرمايي :

**(۱) لغات ټولول او قاموسونه ليکل** :

د ژبې غنا او بډايتوب خو په لغاتو دئ يوه ژبه چې ډېر لغات او کلمات لري هغوني بډايه ګڼله کيږي، نو د لغاتو ټولول او قاموسونو ليکل هم د ژبې د خزانو او پانګو راغونډول دي. تر اوسه د پښتو لغات او کلمات په هغه ډول چې ښايي نه دي ټول سوي، موږ ته را غونډول تر هر څه مهم کار دئ، يوه ژبه چې فرهنګ او قاموس نه لري ژبه نه بلله کيږي، د پښتو لغات ښايي چې پر دې اساس ټول کو:

۱. پوهان او د ژبې مينان دي د لغاتو ټولول خپله ملي وظيفه وګڼي، او هر څوک دې پر خپل وس ضبط او ټول کي، او هغه دې علمي مراكزو ته د ضبط او نشر لپاره وسپاري.

۲. مسئول مقامات دي د لغاتو د ټولولو لپاره سياري ډلې وټاکي او هرې خواته دې وليږي، د پښتونخوا په غرو کې د پښتو ډېرې خزانې پرتې دي، ښايي چې دا خزانې کشف سي، او د پښتو لغات

راټول سي. زه دا دعوه که په رښتيا دا کار په هغه ډول چي ښايي وسي، نو به پښتو، پردو لغاتو ته هيڅ ډول اړه نسي، ځکه چي د دې ژبي مواد او کلمات ټوله په غرو او رغو او ليري بيدياوو کي مهجور او متروک پاته دي.

د پښتو ژبي د لغاتو د هجرت ځايونه زه لاندي ښيم، په دې ځايو کي موږ ښه ښه لغات ميندلای سو : د قندهار ريګ او د ګرمسېر خوا، ارغسان، کدنی، د هلمند غاړي، او د هوتکو غرونه، د ارغنداو غاړي تر مقره، شلګر، د ګومل غرونه، وازه خوا، د پختيا غرونه تر ټله، د ننګرهار غرونه، سپين غر، دا خو دننه د وطن مځکي دي. دباندي هم د پښتو لغاتو مهم مراکز سته : کاکړستان، پښين، د سليمان غرونه، ډيري، بيا ترکرمه، دغسي آزاد قبايل او د خيبر ها خواته تر اټک او د پېښور شاوخوا او سوات او باجوړ او نور. په دې ځايو کي د پښتو لغاتو پلټل په کار دي، چي پوهان خلک ولاړ سي او هرځای چي لغت واروي، د هغه قوم په‌لهجه او په هغو حرکاتو يې ضبط کي.

۳. له ادبياتو او له پښتو آثارو او اشعارو څخه هم ښې استفادې کيږي، او د پښتو کلماتو ذخيرې يې ساتلي دي، دغه مواد بايد پوه خلک له کتابو څخه راوباسي او د قوم پر اصطلاح يې تطبيق او ضبط کي.

۴. قاموسونه چي له دغو ټول سوو لغاتو څخه ليکل کيږي، ښايي چي عصري، علمي اساسونه پکښي مراعات سي، او د کلماتو د استعمال مختلف تحولات او موارد ولري.

**(۲) د پښتو سوچه لغاتو پلټنه** :

هغه پردي کلمې چي اوس زموږ په ژبه کي مستعمليږي او ظاهراً يې په مروجه پښتو کي نلرو، داسي لغات دي په ډېر دقت ټول او ضبط سي، وروسته دي نو دغو سيارو ډلو ته چي لغات غونډوي وسپارل سي، چي په هر ځای کي خپله پښتو کلمه وپلټي او ويې مومي.



په دې ډول به نو موږ ډيري د پښتو نادري او مهجوري کلمې ومومو، او د ژبي ډېر نوادر به مو لاس ته راسي. زه يقين لرم چي هيڅ کلمه به داسي نسي پاته چي پښتو ونه لري، ځني خلک سته چي د داسي کلماتو لپاره تر تحقيق او پلټني دمخه لغات وضع کوي او بيا غواړي چي رواج يې هم کي.

مګر چي موږ پخپله ژبه کي خپله او د ځانه او زړه کلمه ولرو، نو نوې کلمه وضع کول غلط کار دئ.

هو ! که موږ پوره پلټنه وکړه، او په ژبه کي مو داسي پښتو سوچه کلمه نه کړه ميندله، او له هري خوا مايوس سوو، هلته که نو موږ د پرديو کلماتو په مقابل کي نوې وضع وکو، البته ښه به وي ! مثلاً آخور اوس په موږ کي خورا مروجه کلمه ده په مقابل کي د ښاري محاورو پښتو هم نه لرو، يو وخت چا د دې لپاره (بسنخرى) نوم وضع کاوه، وروسته دا نوم موږ په سوچه پښتو د مروتو په محاوره کي ومونډ (پمبى) يې بولي (۲) نو چي اصله او موضوعه زړه کلمه وي نوې ته خو حاجت نسته.

په دې ډول تر پلټني دمخه شيانو ته نومونه وضع کول ژبه خرابول دي. "سګک" په مروجه محاوره کي پښتو نوم نلري، چا د دې لپاره د ترجمې په ډول کوترئ نوم ښه ګڼلئ دئ، مګر تر پلټني وروسته ښکاره سوه چي دا شی په پښتو (غربى) بولي (۳) نو که تر وضع دمخه پلټنه سوې وای، غلطي به نه پېښېده.

ډېر د پښتو پوهان په وضع کي خورا ډېر تلواري دي، دوی ژر ژر نوی نومونه تجويز کوي، مګر زه وايم که تر دې دمخه پلټنه وسي، حاجت وضع ته نه پاتيږي، پخپله ژبه دغه مواد لري، موږ يې د وضع حق هم نه لرو.

دلته زه په خورا احترام او درناوي له داسي ښاغلو څخه چي په وضع کي تلوار لري دا هيله کوم چي دوی لومړی پلټنه وکي، کي

لغت نکړۍ مينده، نو دي بيا وضع ته اقدام وکي. ځکه چي دا پلټنه د يوه سړي مقدوره نه ده، او په ټولو پښتنو کي نسي ګرزېدلای، نو بنايي چي د پښتو د روزني مسئول مقامات دې پلټني ته توجه وفرمايي. لومړى داسي پردي کلمات چي اوس يې موږ په پښتو مقابل لغت نلرو، ټوله يو ځای ټول کي، وروسته يې نو په ټولو پښتنو کي د اهل ذوقو پښتنو په ذريعه وپلټي. تينګه هم داده چي ډېر نادر شيان به ومومي.

**(۳) د لغاتو وضع :**

تر پلټني وروسته زموږ کار دې ته رارسيږي، چي لغات وضع کو. لغات وضع کول يعنی لغات جوړول آسانه کار نه دئ، او نه د يوه سړي او دوه تنو لخوا لغات وضع کېدايسي، دا خورا مهم کار دئ، او د دې مقالې د ليک لوی مطلب هم دغه دئ، چي زه پر دې موضوع څېړنه وکړم، او څه نه څه يې وسپړم.

کوم لغات بايد وضع سي؟ د دې پوښتني ځواب لږ څه شرح غواړي، چي په لاندي موادو راوړله سي :

۱. په زړو نومو او اصطلاحاتو کي ځيني داسي شيان سته چي طبيعي مواد ګانه سي، او په اجتماعي ژوندون کي ګډ دي. د داسي شيانو لپاره که موږ په ښاري محاورو او مروجه پښتو کي لغت ونه مومو، نو بنايي چي ويې پلټو، تينګه دا ده چي مينده کيږي او تر پلټني دمخه پر وضع پيښه ونه کو.

۲. په زړو علمي اصطلاحاتو کي دي هم غور وسي، ممکنه ده چي پښتو ولري، که نسوه مينده نو دي دا علمي اصطلاحات ښل قيد سي، او وضع ته دي وسپارل سي، يا دي هغه په ژبه کي ومنل سي.

۳. نوي علمي اصطلاحات او ځني اجتماعي او عصري نومونه چي د مدنيت د قرن نتايج دي، دا شيان خو ټوله نوي



دي، نو بنايي چي په وضع يې اوس ژر موږ پيل وکو، چي ژر رواج ومومي، او د پردو کلماتو پر ځای چي د مدنيت سره راځي، خپلي کلمې استعمال کو، لکه : پوهنتون ـ روزنتون ـ روغتون. دا خبره د علمي ټولنو د غور وړ ده چي هر ورځ د مدنيت له نوو آثارو سره زموږ په ژبه نوي نومونه هم ګډيږي، او د عوامو په خولو کي لويږي. د دې لپاره که علمي ټولني تر رواج دمخه د پرديو کلمو پر ځای خپل پښتو کلمات وضع کي بده به نه وي.

مثلاً : زموږ وطن ته موټر راغی، د دې شي سره تقريباً سل نوي لغتونه راغله، او د عوامو په خولو کي ولوېده، چي اوس يې هر څوک پيژني، پټرول، هنډل، باډي، کلينر، ټانک، ببلر او نور نور داسي کلمات رواج سوه چي اوس يې کوچني او لوی پيژني، دا فقط پنځوسو کالو د يوه شي د راتګ اغيزه ده ورځ په ورځ نوي نوي اختراعات او د مدنيت نوي شيان زموږ کره راځي، او د هر يوه سره نوي نومونه هم راشوه کيږي، په پای کي به زموږ ژبه لکه د هند اردو يوه داسي مرکبه ژبه سي، چي د ايشيا لغات لا څه کوي، د اروپا کلمې به هم په ګډي وي، نو ژبې ته چي دا خطر متوجه دئ، او هره ورځ هم مهلک او قوي کيږي، بنايي چي پښتانه دا خطر له خپلي ژبي څخه ليري کي، او پرې نږدي چي پردي کلمات له هري خوا زموږ سپېځلي ژبه راګرغېړنه کي.

اوس لا د وخت سر دئ، علمي ټولني خو هم دغه کارونه لري، بنايي چي دا ادبي او علمي خطر له ژبي څخه رفع کي. که نه وي بيا يې جلوګيري هم ګرانه ده، او دا مسئوليت به د اوسني نسل پر غاړه پاته سي، او زموږ راتلونکي پښتانه او زامن به له دې بې پروايي څخه زيانمن وي. ښه ! چي اوس موږ په خپله ژبه کي ژر تر ژره وضع ته اړ سوو، او د علمي او مدني او اجتماعي او عصري

اصطلاحاتو لپاره باید موږ ژر تر ژره لغات وضع او خپاره کو، نو ښايي چې د وضع اصول وپېژنو، او په دې وپوهېږو چې نور ملل دې خواته پر کومه خوا راغلي دي؟ او پر کومو اصولو يې په خپلو ژبو کې د وضع چارې غوره کړيدي؟ دلته زه پر دې مطلب وږغېږم او مفصل به يې وليکم :

**(۴) د وضع ضرورت :**

هره ژبه چې علوم او فنون په ځان کې ګډوي او د يوې ژبې خاوندان ځانونه علم ته نژدې کوي، نو دوی د علم د اخيستلو او راګډولو پر وخت مجبور دي، چې د علمي اصطلاحاتو لپاره يا د بلې ژبې نومونه واخلي يا پخپله ژبه کې علمي اصطلاحات ورته وضع کې، د بلې ژبې کلمات اخيستل او په خپله ژبه ګډول خو ځينې تاوانونه لري نو ځکه د دنيا ملل مجبور سويدي، چې په خپلو ژبو کې علمي اصطلاحات وضع او مينده کې، عربو چې په عباسي دوره کې په عباسي ژبه علوم او د يونان فلسفه ترجمه کوله، دوی سمدلاسه عربي اصطلاحات هم ورسره کول، او ځينې الفاظ يې د عربي ژبې په کړويته (قالب) کې اچول، يعنی معرب کول يې، په دې ډول يې علوم ټوله عربي ته رانقل کړه، مګر د يونان او پارس او هند کلمات يې نه اخيستل، کې اخيستي وي ډېر به لږ وي يا يې معرب کړي وي. (۴)

اوس په هندوستان کې ځنې علمي ډلې سته چې دوی په خپله ژبه کې علمي اصطلاحات وضع کوي، د حيدر اباد دکن جامعه عثمانيه دا کار په ډېر زيار سره کوي، د اردو د لوړتيا انجمن او نوري علمي ټولني په ګډه د خپلې ژبې علمي اصطلاحات غوره کوي.

په ايران کې ډېر فارسي اصطلاحات د خارجي لغاتو په مقابل کې رواج سويدي لکه : دانشګاه ـ ارتش ـ دانشکده ـ دانشجو ـ



دانش يار ... نو موږ هم که خپله ژبه سمو او د نورو ژبو له اغيزو څخه يې ساتو، ښايي چې علمي اصطلاحات او نومونه او د عصري لوازمو او اختراعاتو اسماء په پښتو ولرو چې يوه ژبه د پردو له اختلاطه وژغورو، او بل مو په ښوونه او زده کړه کې سواني وي.

**(۵) د وضع اصول :**

په وضع کې زما په فکر دوه مهم اصول مراعات کېږي، او لحاظ يې ضروري دئ يعنی دوو خواوته رجوع کېږي :

۱. وضع کوونکي خلک باید پښتو ژبه پخپله د فقه اللغه او فقه الصوت له مخې وګوري يعنی هغه اصول چې په خپله په ژبه کې د وضع لپاره موجود دي، او قدماوو پر دغو اصولو خپله ژبه جوړه کړېده، دا اصول ښايي چې په ډېر تدقيق او غور قيد سي، او بيا حتی المقدور پر دغو اصولو وضع سي، په دې ډول به نو نوي وضع سوي کلمات د ژبې له عنصره سره مخالف نه وي، او د پښتنو پر کومو او ستونيو به برابر وي.

۲. هغه اساسونه چې نورو ملتو د لغاتو په وضع کې اېښي دي، او پر هغو قاعدو چې دوی علمي اصطلاحات جوړ کړيدي، ښايي چې د پښتو لغاتو په وضع کې هم ورته وکتل سي، چې زموږ ژبه او اصطلاحات يې هم له مسلمو علمي اساسو څخه مخالف نه وي، او اصطلاحات مو مکروه او متسهجن نسي، علماء يې قبول کي، او عوام هم خوند ځني واخلي.

عمومي شرايط :

اوس به نو د وضع ځني عمومي شرايط لنډ ـ لنډ بيان کو :

(۱) ـ وضع کېدونکي کلمات دي حتی المقدور مفرد او لنډ وي، تر مرکبو الفاظو دي مفرد کلمات غوره سي، يا داسې کلمات چې لکه مفرد لنډ او بسيط وي، مثلاً په انګليسي سب Sub په فرانسوي

Sous تل او کښې ته وايي، ميرين Marine يعنی بحري او دريايي، دا دوې کلمې سره يو ځای سوي سبميرين Submarine ځني جوړ سو، دا هغه کښتۍ ده چي تر اوبو لاندي ځي. عربو دا نوی شی په ترجمه (تحت البحری) وباله، د ايران فرهنگستان د پارسي نوم په ترجمه (زير دريايي) ورته کښېښو. د پښتو پښتنو دې ته دغسي مرکب نوم وضع کئ (اوبتل) چي له اوبه + تل څخه مرکب دئ؛ زما په عقيده دا نوم مفرد ته نژدې او تر پارسي زير دريايي يا تحت البحري غوره دئ، ځکه چي لکه اروپايي سبميرين کلمه مرکبه نه ايسي، او مفرد ډول لري او معنا هم ښه افاده کوي.

آژانس Agency اروپايي کلمه ده، چي د گماشتگۍ او نمايندگۍ معنا لري هغه ادارې چي خبرونه استوي، يا يې نشر کوي ، مثلاً د انگلستان رويټر د شوروي تاس او نور ... دې ته يې په پارسو (خبرگزاری) نوم وضع کړيدئ، که د پښتو ژبي (خبريال) د دې مفهوم لپاره وټاکل سي گمان کوم چي تر وضع سوي کلمي به ښه وي، ځکه چي د مفردې کلمې ډول لري، دغسي هم د عربي (بلديه) د ايران فرهنگستان (شهرداری) بولي چي د پښتو نوم يې ښاروالی دئ، خو د عربي بلديه سپکه او غوره ښکاري.

(۲) د علمی اصطلاحاتو د وضع لپاره بايد چي د فن ماهران او د ژبي پوهان دواړه سره يو ځای سي او يو د بل په مرسته وضع وکي. ځکه داسي خلک خو خورا لږ دي چي هم د فن خاوندان وي او د ژبي پوهان. نو که داسي دوې ډلي په گډه کار وکي، ښايي چي وضع کړي کلمات به يې هم د فن له پلوه صحيح وي هم د ادب له مخه.

(۳) ځني نوي مخترعات د خپلو جوړونکو او موجدينو يا په بين المللي نامه مشهور دي، پر دې مخترعاتو نورو ملتو هم نومونه نه دي ايښي، کې موږ هم په هغو نومو وبولو بده به نه وي، لکه :



راديو، تلويزيون، تلگراف، بيا هم که کوم ډېر موزون نوم ورته مينده سي، ايښوول يې عيب نه دي.

(۴) هغه مواد چي وضع کېدونکي لغات ځني جوړيږي يا ځني ترکيبيږي، ښايي چي ډېر مشهور او مروج مواد وي، چي هر څوک ژر په وپوهيږي، ترکيب يې ساده وي او سره کونجلک نه وي، د ژبي د ادب له لوريه هم خوږ او مقبول وي، مستهجن کلمات نه وي، او د عوامو پر محاورو سم وي.

د جرمني ژبي علمي اصطلاحات خورا ساده او آسان دي، مثلاً نائټروجن چي د هوا يو جزو دئ، په جرمني يي ستک ستاف Stick+stoff بولي، يعني د ښري يا تروشکۍ ماده، عربو کټ مټ دغه ترجمه کړې او (مولد الحموضه) يې بولي.

البومين يعنی د هگۍ سپين عيناً د هگۍ سپين بولي Eiweiss جاپانيان هم په علمي اصطلاحاتو کي خورا سادگۍ ته تللي دي، او ډېر بسيط او څرگند نومونه يې پر ايښي دي. مثلاً هايدروجن چي د اوبو يو جزو دئ جاپانيان يې Sui+so (سوی + سو) بولي، سوی يعنی اوبه، سو يعنی عنصر. عربو هم دغسي ترجمه کړيدئ (مولدالماء) او پارسبانو (آب زا) بللئ دئ. هايډروډيناميک يعنی د اوبو د قوت کتنه يا علم، جاپانيان دا علم (سوی + رايوکو + گاکو) بولي. سوی يعنی اوبه + رايو کو يعنی قوت + گاکو يعنی مطالعه يا علم.

په دې ډول دې ملتو ځانته علمي اصطلاحات وضع کړي او په آسانۍ کې زيار کښلی دئ. زموږ پښتو علمی اصطلاحات هم ښايي پر دې مقياس سم وي، او گران او مکروه او درانه نه وي.

(۵) ځني خلک چي د وضع طرفداران دي نو هر کله نوي نوي کلمات وضع کوي دوی دوې يا درې پښتو کلمې سره نښلوي، تر منځ يې نحت يا حذف هم کوي. ځيني حرفونه حذفوي، وايي چي

دغه حروف په پای کي پخپله ځي، يعنى كثرت استعمال يې لنډوي درانه حروف ځيني غورځوي.

په دې ډول نو د دوی وضع کړي کلمات يو عجيب او غريب رنگ مومي چي هغه اصل مطلب د وضع هم فوتيږي. مثلاً د وضع څخه مطلب دا و چي پښتانه ژر ژر په علمي اصطلاحاتو وپوهيږي، او دوی ته خورا آسانه وي، چي موضوعه کلمه يې ولوستله نو ژر د دوی فكر موضوع ته ولاړ سي، مگر د وضع ځينو شوقمنو حضراتو هغه کار چي فطرت يې مثلاً پسله پيړيو کوي ځني حروف زياتوي، ځني حذفوي په يوه دقيقه کي وکي، دا کار د طبيعي نواميسو سره مخالف دئ، او بيرته دغه موضوع منحوت کلمات پښتنو ته پردي ايسوي، او کورټ نه په پوهيږي.

هوکې ! موږ به وضع کوو او علمي اصطلاحات او نوي نومونه به جوړوو، مگر هغه چي زموږ کار دئ موږ يې کوو، او هغه چي د فطرت او قدرت د نواميسو كار دئ هغو ته بې پريږدو، دا خبره منطقي هم نه ده، ځکه چي په فرضي او محتملو سره مثبت او واقع شی نه اوړي. مثلاً يو چا راډيو (غدبلى) باله چي مرکب دئ له (غږ + دبل) څخه او اصل يې هم ږغ + دبلى) دئ، خو غدبلى د موضوع له سره رابطه نه ښيي.

او داکلمه چي هر پښتون ته وواېي، څو يې شرح نه سي، كورټ نه په پوهيږي. او که غږ + دبلى ـ ږغ + دبلى ورته وواېو، ژر يې په فكر كي څه ورگرزي او لږ څه يې په معنا پوهيږي. نو موږ ته نه ښايي چي په فرضي او غير واقعي عواملو دمخه په كلماتو او موضوعاتو کي حذف او نحت راولو، که نه وي د فهم او پوهېدلو له رويه خو نو دغسي کلمات او پردي الفاظ يو دي. دا هم شرح غواړي، هغه هم، او هغه علمي تسهيل چي په وضع کي پروت دئ او موږ يې وضع ته مجبور کړي يو، بيرته له منځه وزي. وضع د



تسهيل لپاره ده، چي تسهيل ورک سو، نو وضع هم ولاړه او حاجت ورته نسته.

**(۶) پر پښتو د وضع د اصولو تطبيق :**

دمخه ما د وضع دوه خورا ضروري اصول وښوول. چي پخپله د ژبې په فقه اللغه کي دي د وضع د اصولو پلټنه وسي. بيا د نورو ژبو د لغاتو او كلماتو او موضوعاتو اصول وپلټل سي، په دې ډول به نو نوي موضوع کلمات د ژبې له عنصره سره هم ورته وي او علمي رنگ به هم ولري. پښتو خو په اصل کي يوه آريايي ژبه ده، چي د دې تكلم له زړو ژبو سره نژدېوالی او نسبت لري لاندي به موږ د آريايي او نورو ژبو د اصطلاحاتو اصول د پښتو سره تطبيق کو :

**(۱) توليد :**

د علمي اصطلاحاتو په ابنوولو کي موږ له توليده ښه کار اخلو. د توليد يو ډول دغه دئ چي د ژبې ځني زاړه مواد او کلمات په نوي معنا مشهور کي. د ژبو محققين تر نوي اختراع داسي کلمات ډېر خوښوي. د ايران فرهنگستان په نوو كلماتو کي داسي ډېر اصطلاحات اخيستي دي چي زاړه مستعمل وو، که يې د توليد په ډول څه معنوی تغيير خوړلی وي، هغه به هم د ارتباط وجه لري : مثلاً (اژدر) يوه کلمه وه چي د ايران په زړو افسانو کي مستعمله وه، يو مار و، چي تر خوله يې اور توئيدی.

اوس فرهنگستان دا نوم واخيست پر تړپيل TORPILLE يې کښېښود، دا هغه بحري بم دئ چي د اوگوټو د غرقولو لپاره يې پر اوگوټ واچوي او په مات يې کي.

هزينه په خپلو پاړسو کي خزانې او نفقې او خرج ته ويل کېده كمال اسماعيل وايي :

کردم هزينه در ره مدح تو نقد عمر
ور اندکی بماند ازان هم بران تست

اوس فرهنگستان دا کلمه مخصوصه کړه د مصرف او خرڅ لپاره چې مقابل د دخل دئ.

عربو هم په دغه توګه ډېر زاړه کلمات نوي کړه، دبابه پخوا په عربو کي يو د جنګ له اسبابو څخه و "و عمل موسى دبابے دب المسلمون تحتها الى برج من ابراجها." (۵) دغسي هم بلاذري ليکي : "فاتخذ المسلمون الدبابات و قاتلو اقتالا" (٦) له دې څخه ښکاره ده چي دا آله په عربو کي زړه وه، اوس نوو عربو دا زړه کلمه راواخيسته او پر آهن پوش موټر يعنې ټانک TANK يې اطلاق کړه. دوى وايي چي په يوه تقريب زوړ نوم مينده کيږي ، نو نوى نوم اينوول فصاحت نه دئ. دغسي هم دوى تليفون (هاتف يا مسره) موټر (سياره) سايکل (دراجه) ايروپلان (طياره) بولي. (۷)

د دې کلماتو اصل خو زوړ دئ، مگر استعمال يې په دغو معناوو نوى دئ موږ هم په پښتو کي کولاى سو چي ځيني زاړه مفرد کلمات ومومو، او پر نورو شيانو يې اطلاق کو، په دې شرط چي د ارتباط وجه يې ټينګه وي.

مثلاً : الوتکه = طياره

برېښنا = برق

ونډه = سهم (اصطلاح بانکی)

په توليد کي له اشتقاقه ډېر کار اخلئ، مثلاً د يوې مادې مختلف مشتقات پر مختلفو معناوو اطلاقوئ.

**(۲) نښلول** :

يعنې نښلول د اداتو او علاماتو دمخه يا وروسته په کلماتو پوري. دا کيفيت په آريايي ژبو کي ډېر دئ، مگر په سامي ژبو کي نسته يا نادر دئ. هغه ادات چي دمخه په کلماتو پوري نښلي په عربي بې سابقه او په انګليسي يې پرى فکس بولي او هغه لواحق چي د کلمې په پاى پوري نښلي په عربي يې لاحقه او په انګريزي يې



سفکس بولي. مثلاً : انتى **ANTI** يوناني کلمه ده په معنا د خلاف او مخالف. دااداات په ډېرو شيانو کي استعماليږي. او دمخه په کلماتو پوري نښلي ديموکرات يعنې د خلکو د حکومت پر خوا، انتى ديموکرات يعنې د ديموکراسۍ مخالف.

ليتهک يعنې ډبرين ـ انتى ليتهک **Anti Lithic** يعنې مخالف د ډبرين (په طبي اصطلاح هغه دواوي چي په مثانه کي ډبره ورکوي) په پاړسو کي هم داسي سوابق ډېر دي مثلاً : بر ـ برجسته، برآمد، برداشت، برخاست ـ پس : پس خورده، پس انداز، پسمانده، پسپا، پسادست. داسي سوابق په آريايي ژبو کي خورا ډېر دي، پښتو هم لکه نورې آريايي ژبې داسي سوابق ډېر لري مثلاً : نا : ناروغه، ناوړه، ناسياله، ناپېښه.

بې : بې موره، بې ګټې، بې کوره، بې مخه.

ټول : ټولمشر، ټولواک، ټولواکي.

خپل : خپلواک، خپلواکی، خپل چاروکی، داسي سوابق په علمي اصطلاحاتو او نورو نومو کي زموږ ډېر په ښه راځي، او په وضع کي خورا کومک راسره کوي.

په انګليسي علمي اصطلاحاتو کي آتو **Auto** چي د (خود، خپل) معنا لري ډېر استعماليږي، مثلاً آټولوجي ـ معرفت النفس يعني ځان پېژندنه، اټوماټيک يعنې هغه ماشين چي پخپله کار کوي، اټوموبيل يعنې په خپله تلونکی، اوټوګراف ـ خپل خط ، اوټونومی ـ خپل واک يا خپل حق.

په دې ډول لکه دمخه چي د "خپلواک او خپل چاروکي" کلمې لرو، نو اوس هم دغسي کلمات وضع کولاى سو، مثلاً اټوماټيک ته (خپل چاره) او اټوموبيل ته (خپل يونکی) او اوټونومی ته خپلواکي ويلاى سو. دا خو د هغو آداتو مثالونه وو چي د کلمو دمخه نښلي، اوس به نو د هغو اداتو مثالونه وګورو چي وروسته په

كلماتو پوري نښلي يعنی لواحق. گراف GRAPH يوناني لاحقـه ده چي د ډيرو علمي اصطلاحاتو په جوړونه کـي کـار ځيني اخيسـت سويدئ په يوناني د دې کلمې معنا ليک دئ، مثلاً ټيلي يعنی ليري، ټيلگراف (ټيلی + گراف) يعني له لـيري ليکـونکی. فونـو يعنـی ږغ ـ فونو + گراف يعنی ږغ ليکونکی. فوټو يعنی تصـوير ـ فوټـو + گـراف يعنی تصوير ليکونکی. په دې ډول ډير او بې حسابه علمي نومونه او اصطلاحات په اروپايي ژبو کي مستعمل او بين المللي سويدي. تـاپو گراف (تخطيط الارض) ټائپوگراف (حروفی چاپ) ليتوگراف (ډبـرين چاپ) زينکو گراف (جسی چاپ) اکزيلوگراف (د حکاکـی آلـه) ايـرو گراف (هوا ښوونکی) و غيره. په پښتو داسي دا لاحقه تطبيق کيږي :

ټلگراف کټ مټ ترجمه لير ليک
فوټوگراف " ځيره ليک
فونو گراف " ږغ ليک
ټاپوگراف " مځکه ليک
ټائپوگراف = سيکه توری (سيکه يعنی سرب)
ليتوگراف = ډبرټاپنه (ټاپنه طبع)
بيوگراف کټ مټ ترجمه ژوند ليک

بله مشهوره او ډير مستعمله لاحقه لاتينـي ايـزم ism ده چـي پـر حالت او نظام او اصولو او مذهب دلالت کوي، مثلاً : بابريزم يعنـي بربريت او وحشـت ـ سوسـياليزم يعنـی اجتماعيـت ـ ريـاليزم يعنـی حقيقت.

په دې ډول په اروپايي ژبو کي ډير علمي اصطلاحات او ډيـر د علمو نومونه جوړ وي، کله تر کلمې وروسته يونـاني لاحقـه لـوجی Logy هم راوړي مـثلاً : بيـاس ژونـدون بـولي. بيـالوجی Biology يعنی د ژوند علم ـ جيو مځکه بولي جيولوجي يعنی د مځکـي علـم ـ وغيره د آلاتو او ادواتو د نومو د جوړولو لپاره هم ډيـر ځلـه دوی



يونـاني لاحقـې ميټرياسـکوب راوړي مـثلاً ترمـاس تودوخـه بـولي، ترماميټر يعنی مقياس الحرارت. الکترک برېښنا بولي الکټروميټـر يعنـی معيـاس البـرق. بيـاس ژونـد بـولي، بايسـکوب يعنـی ژوند ښکـاره کوونکی. ټيلي ليري بولي، ټيلسکوب يعنی ليري ښکاره کوونکی. پـه پاړسو کي هم ډيري لاحقې سته مثلاً : شناس : آمار شناس (احصـائيه نويس) زمين شناس. نما : پرسش نما (ورقه سوال) قبله نمـا، هوانمـا. دار : حسابدار، شهردار (رئيس بلديه). په دې ډول نوي پاړسو لغتونـه هم جوړ سويدي. موږ هم په پښتو کـي داسـي سـوابق او لواحـق د وضع لپاره استعمالولای سو : ښوونکی، ښکاروونکی، ځرگنـدوونکی، لرونکی، پيژندوی او نور نور کلمات مـوږ د لاحقـو پـه ډول راوړلای سو مثلاً : فونوگراف : ږغ ساتونکی يـا ږغ اخيسـتونکی بلـلای سـو، دغسي هم د پښتو لواحق : توب، ښت، تون، تيا، والي د لاتينـی ازم پر ځای دربدای سي، مثلاً ټولنه = اجتماع ـ ټولتوب = اجتماعيـت. پښتو هگ (وحشی) هگتوب ـ هگتيا (وحشـت) پښتـو کـام يـا اولـس (ملت) کاموالی، اولسوالی (مليت، نيشنلزم) پښتـو ځـان (ځـانوالی = ايگوئزم)

د پښتو پر صرفي قانون په (ني، پن، لن، من) نښلولو سره منسوب كلمات جوړول هم موږ ته په وضع کي کومک رارسوي، مثلاً :

| | | | |
|---|---|---|---|
| مايع ـ اوبلن | له | اوبه | څخه |
| متحجر ـ ډبرين | له | ډبري | څخه |
| قمري ـ مياشتنی | له | مياشتي | څخه |
| شمسی ـ لمرنی | له | لمر | څخه |
| منحنی ـ ليندنی | له | ليندۍ | څخه |
| سرمايه دار ـ پانگمن | له | پانگي | څخه |

ها نور لواحق داسي پر پښتو تطبيق کېدای سي :

کاپيتاليزم يعنی سرمايه داري ـ پښتو پانگمنوالی

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تیلسکوب | یعنی | دوربین | پښتو | لیرلید |
| بایسکوب | " | سینما | " | ژوندی لید |
| اسپکټروسکوب | " | نورنما | " | رڼا لید |
| ترمامیټر | " | مقیاس الحراره | " | غارمه ښوونکی |
| الکټرومیټر | " | البرق | " | برېښنا ښوونکی |
| اوډیومیټر | " | ترکیب الماء | " | اوبجوړونکی |
| الکټروفر | " | حافظ برق | " | برېښنا ژغورونکی |
| اتولوجي | " | علم امراض گوش | " | غوږ پوهنه |
| اتونوکوپ | " | گوش نما | " | غوږ کوت |
| اپولوجي | " | فن مداحی | " | ستاینه |
| انتومولوژی | " | حشره شناسی | " | خزنده پوهنه |
| اسپرټزم | " | تحضیرالارواح | " | ارواغوښتنه |
| ایگوسکوپ | " | بیضه نما | " | هگۍ ښوونکی |
| اټولوجي | " | استخوان شناسی | " | هډ پوهنه |
| پیداگوجي | " | علم تربیه | " | روزنه ـ پالنه |
| جیروسکوپ | " | حرکت نما | " | ښورښوونکی |
| میکروسکوب | " | خوردبین | " | ووړلید |
| هائگرومیټر | " | میزان الطوبه | " | لندبل ښوونکی |
| لبرال | " | آزادیخواه | " | خپلواک غوښت |
| لبرالیزم | " | آزادیخواهي | " | خپلواک غوښتنه |
| لونولوجي | " | فقه الصوت | " | ږغ پوهنه |
| فوټو میټر | " | مقیاس النور | " | رڼا ښوونکی |
| فوټوډرافي | " | علاج امراض به نور | " | رڼا روغنه |
| انتروپولوجي | " | علم الانسان | " | سړي پوهنه |
| پسیکولوژی | " | روحیات | " | ارواپوهنه |
| ایولوشن | " | نشوو ارتقاء | " | وده، لوېښت |



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| منظومه شمسی | یعني | (اصطلاح ریاضی) | پښتو | لمر نړۍ |
| میکروب | " | جرثومه | " | وړمکړی |
| میکرفون | " | مکبر الصوت | " | ږغ پورت |
| آرکیالوجي | " | باستان شناسی | " | لرغون پوهنه |

او نور نور ...

**(۳) ارتباط** :

په آریایي ژبو کې د ارتباط په ډول ډېر اصطلاحات جوړ سویدي، د اضافي یا امتزاجي یا وصفي مرکب ډولونه ټوله په ارتباط اړه لري، دوې کلمې سره ونښلي، او پر یوه معنا اطلاق سي. مثلاً : په انگریزي پاس تایم Pas-Time په پارسي ساعت تېرى، په انگریزي نوبل مین Noble-man په پاړسو رادمرد.

په دې ډول دوربین ته لیرلید، او میکروسکوب ته ووړ لید یا غټ لید، ویلای سو او لید له لیدل څخه مخففه یوه لاحقه ده.

په انگریزي وایي هارس ریس Horse Race په پښتو دې ته آس زغل ویلای سو، په انگریزي جازامه اوبون هډ بولي، جابون Jow-Bone یعنی د زامي هډ چې موږ یې په سپک ډول (زامی هډ) بللای سو.

تیلی = لیری + فون = ږغ ـ تیلفون یعنی د لیري ږغ ـ موږ دې ته په پښتو (لیرږغ) ویلای سو (د ارتباط په ډول)

دغسې هم سیمدار تیلي گراف (ږغ مزی) او د راډیو آخذ ماشین (ږغ نیو) او مرسل ماشین (ږغ لیږ) بللای سو ( د ارتباط په ډول).

پخوا هم په پښتو کې د ارتباط په ډول کلمې جوړې سوې دي یعنی دا کیفیت د ژبې په عنصر کې هم سته مثلاً : خواخوږی، پرانگ پش (۸).

**(۴) اشتقاق** :

په آریایي او سامي ژبو کې په اشتقاق ډېرې کلمې جوړې سویدي، عربي او پارسي مشتق کلمات ډېر لري (۹) د اروپا په ژبو

کې هم ډېر علمي اصطلاحات سته چې په دې ډول جوړېږي، يعنې له يوه لفظه څخه صفت او د حالت اسم جوړوي لکه : له سيوبل څخه سيولايز ـ او سيولايزيشن (مدنيت) او له نيشن (ملت) څخه نيشنلايز (ملي) يا نيشنلتي (مليت).

ناتېر ښرې ته وايي، له دې څخه لې ناتري فائی Nitrify جوړ کئ يعنې يو شی په ښره تبديل کول. په دې ډول په پښتو هم له يوه نومه څخه مصدر او نور مشتقات جوړولای سو، د پښتو په عنصر کې هم سته مثلاً وران ـ ورانول، کوږ ـ کږول. پر دې اساس له ږغ څخه داسې کلمې جوړېدای سي :

ږغندوی يا ږغند = گرامافون. ږغو يا ږغن = راډيو. ږغور يا ږغوره = فونوگراف. او نور نور.

گټه (بانکی اصطلاح) په مقابل کې د **Interest** او گټندويه پخپله هغه اداره بللای سو. وټه (اقتصاد) او (وټندوی) اقتصادي سړي ته ويلای سو، پانگه په پښتو سرمايه **Copital** ده، پانگوال يا پانگور سرمايه دار ته وايو، چې اروپايي نوم يې **capitalist** دئ.

برېښنا برق ته وايو، برېښند. برېښندوی هغه اجسام چې په عربي نوي اصطلاح مکهرب وي، برېښندول گهربه يعنې پرشی باندي برقي قوت اچول بللای سو، وړانگه په پښتو شعاع ته وايي، وړانگن يا وړانگور (متشعشع) وړانگن توب (تشعشع) ته ويلای سو.

**(۵) گډول او سپکول (نحت) :**

يو مهم اصل چې لغات او اصطلاحات پر جوړېږي په عربي نحت بولي يعنې ډيري کلمې سره گډي کي، او تر منځ يې هم ځني درانه حروف حذف کي، او لنډه او سپکه يوه کلمه ځني جوړه کي. د پښتو په عنصر کې دغه اصل سته. په عربي ژبه کې هم ډېر مصادر د نحت په ډول او د اروپايي ژبو ځني علمي اصطلاحات هم له گډولو او سپکولو څخه د ځو ځو کلماتو جوړ سويدي. (۱۰) لکه



چې ما دمخه و ويل، منحوت اصطلاحات ډېر گران وي او څوک نه په پوهيږي، نو زه اوس په پښتو کې د منحوتو اصطلاحاتو د جوړولو طرفدار نه يم، ځکه چې د سهولت پر ځای گراني پېښوي، زما دا عقيده ده څو علوم او فنون په وطن کې ډېر نسي، په دې ابتدايي حال کې په منحوت ډول کلمات وضع کول آساني نه راولي.

ځکه چې زموږ مطلب سواني ده، چې پښتانه ژر ژر په علمي اصطلاحاتو پخپله پوه سي، نو که يې منحوت کو، بيا لکه اجنبي لغات بېله ښوونه او زده کړه غواړي. د علم د خپرېدو د ډېرښت پر وخت که بيا آيندگانو دا لار غوره کوله. البته دوی ته به گراني نه وي.

اوس موږ ته ښايي چې حتی المقدور واضح او صريح الدلالۀ او آسان لغات وضع کو، او بې له سخته ضرورته له نحته کار وانخلو. او که ډېر اړ سوو، نو به ډېر لږ سپکول پکښي کوو، او دا به مو په ياد وي چې داسې کلمې جوړي کو، چې په ويلو يې ژر پښتانه په معنا وپوهيږي. مثلاً که موږ وغواړو د اروپايي ژبو په راز چې دوی د لوجي **Logy** د کلمې په پښلولو ډېر اصطلاحات جوړ کړيدي موږ هم دغسي وکو، نو به د ترجمې په تقريب د دې لاحقې په عوض د پښتو (پوهنه) واخلو، مثلاً مځکه او پوهنه سره ملگرې کوو (ه) به يې حذف کو پاته به سي (مځک پوهنه) چې کټ مټ د جيولوجي مفهوم ادا کوي. دومره قدر چې موږ (ه) حذف کو، د کلمې شکل هم نه اوړي، او معنا يې هم نه ورکيږي.

هغه کلمې چې درنې نه وي، نو د نحت او حذف حاجت نه لري، مثلاً د بيالوجی په مقابل کې چې په عربي يې علم الحياۀ بولي (ژوند پوهنه ويلای سو) توله هغه علمي اصطلاحات او د علومو نومونه چې په دې راز د اروپا په ژبو کې سته، موږ يې په دغه ډول په پښتو کې جوړولای سو، سپک تخفيف او حذف که د کلمې معنا نه

ورکوي، بد به نه وي. اما که د کلماتو اساسي او عنصري حروف حذف سي، نو يې د زده کړي سوانی هم نسته، او له پردو کلمو څخه به په تعليم او تعلم کي فرق ونلري.

**(۷) اوسترۍ وينا** :

په لوړو ليکو کي ما څه نه څه د وضع اصول او لاري څرګندي کړې، دا بحث نوره څېړنه هم غواړي، زه اعتراف کوم چي ما بشپړ نه دئ کښلی، ځکه چي نوي خبري دي، نو اوس ما دغونه وکښلای سوای. کې نور فضلاء وپلټي بده به نه وي. که زه غلط سوی وم، سهوه دي راوښيي او کې زيات تحقيق دلاسه پوره و، خو ښه تر ښه، دا بحث دي نور هم پسي وپلټي.

د دې وينا په پای کي دا خبره ضروري ګڼم چي و وايم:

ښايي ځيني زموږ وروڼه به وي چي د پښتو د اصطلاحاتو جوړول او وضع کول به خوند ور نه کي او دا اصول چي موږ لنډ لنډ وښوول بې خونده يې وبولي، او د پرديو علمي اصطلاحاتو او نوو ـ نومونو په مقابل کي به د پښتو نومونه هغسي فصيح او ادبي او د استعمال وړ ونه ګڼي، مګر دا ټوله له دې څخه پېښړي چي موږ د خپلي ژبي سره نابلد يو، غوړونه مو نه دي ورسره روږد. نو ځکه اوس ښه خوند نه راکوي، خو که دا اصطلاحات رواج ومومي، او وضع سي، نو به هر څوک وروسته دا خپل مال خوښ کي. د مثال په ډول وايو لومړی پلا چي عسکري اصطلاحات لکه غونډ مشر، کنډ کمشر، او نور رواج سول، نامانوس ايسېدل، اما اوس هر چابه خوند ورکوي او ښه په پوهيږي دغسي هم نوي عسکر نومونه لکه ډګرمن، بريدمن او نور:

عربي هيوادو پخوا هر يوه خانته خاص عسکري اصطلاحات لرل مګر تېر کال يوه مشترکه ټولنه د دمشق د عربي لغت د مجمع تر کتني لاندي جوړه سوه چي يو (معجم العسکری الموحد) په



عربي او انګليسي او فرانسوي او روسي وليکي، په دې ټولنه کي د عسکري فنونو پوهان او د عربي ژبي پوهان دواړه شامل وو، دوی ټول اته زره عربي عسکري اصطلاحات سره راټول کړي او پخپل معجم کې چاپ کړيدي. دې علمي ټولني د اروپايي ژبو د عسکري اصطلاحاتو په مقابل کي ټول خپل عربي اصطلاحات ترجمه کړي دي، او فقط هغه معربات يې منلي دي چي ډېر شهرت لري. مثلاً د انګريزي اصطلاح Tactics په مقابل کي معرب شکل تکتيک مشهور و، مګر دوی يې پر ځای خپله عربي کلمه (تعبيه) اخيستې ده. دغسي هم د انګريزي STRATEGY چي په عربي کي د استراتجيه په ډول معربه کلمه وه، دوي يې په مقابل کي خپل عربي (سوق) غوره کړيدئ. (۱۱)

پښتو کي هم بايد چي ځيني بين المللي معروف کلمات په هغه ډول ومنل سي، مګر نور علمي او فني او اقتصادي اصطلاحات يا پښتو سي، يا له پارسي او عربي څخه مروج کلمات غوره سي، او په څنګ کې د پښتو مصطلحاتو استعمال هم ورسره وي، چي ورو ـ ورو خلک په هغو بلديت ومومي، او په آخر کي خالصه پښتو پاته سي. (۱۲)

## لمن ليکونه


۱ د گوستاولوبون د لمړنيو تمدنو کتاب د ژبو د ودي بحث.
۲. سپېڅلي پښتو ص ۳.
۳. سپېڅلي پښتو ص ۱۷۰
۴. وگورئ ضحی الاسلام د احمد امين او د عربو د تمدن تاريخ د جرجي زيدان
۵. نفخ الطيب ج ۱ ص ، ۱۲۶.
۶. بلاذری _ فتوح البلدان ص _ ۱۸۴.
۷. وگورئ لغات جديده د علامه سيد سليمان ندوی.
۸. د سپېڅلي پښتو مقدمه، ص ۲۰.
۹ د اشتقاق مفصل بحث د سپېڅلي پښتو مقدمه ص _ ۹ _ ۱۳ وگورئ
۱۰. وگورئ د سپېڅلي پښتو مقدمه فقه اللغه ص ۱۶ _ ۱۹.
۱۱ د دمشق د عربي ژبي د ټولني مجله، ۱۹۷۰ م.
۱۲ وږمه مجله، ۱۳۴۸ ل کال، ۴ _ ۵ گڼه، ۱ _ ۲۴ مخونه.